# هغه څه چې تاسو ورته اړتيا لرئ ترڅو د پټ نري رنځ (TB) د ناروغۍ د درملنې په برخه کې يې بايد په اړه پوه شئ

## ايزونيازيډ او ريفاپنټين

تاسو ته ستاسو د پټ نري رنځ ناروغۍ د درملنې لپاره درمل درکړل شوي دي. تاسو د نري رنځ ناروغي نه لرئ او نورو ته دا ناروغي نه خپروئ دا درمل به ستاسو سره د نري رنځ ناروغۍ په مخنيوي کې مرسته وکړي.

### په ياد ولرئ چې د ډاکټر سره خپل اوونيز ملاقات په منظم ډول تعقيب کړئ:

تاسو به په اوونۍ کې د روغتيايي پاملرنې د کارکوونکي سره ليدنه ولرئ ترڅو خپل درمل ترلاسه کړئ. دا پلان د مستقيمې مشاهداتي درملنې (DOT) په نوم ياديږي.

DOT کولی شي ستاسو سره په څو برخو کې مرسته وکړي.

- روغتيايي کارکوونکی ستاسو سره دا مرسته کوي چې ياد درمل بايد څه ډول وکاروئ.
- تاسو به ژر تر ژره خپل درملنه بشپړه کړئ.
- د روغتيايي پاملرنې کارکوونکی به دا ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو د اړونده درملو د استعمال سره کومه ستونزه نه لرئ.
- ستاسو د اوونيزو طبي غونډو په ترڅ کې، دا شخص کولی شي ستاسو پوښتنو ته ځواب ووايي. تاسو هم کولی شئ چې د خپلو انديښنو په اړه ورسره وغږېږئ.

### کله چې دغه درمل کاروئ:

- ✓ که تاسو د اړونده درملو په اړه کومې پوښتنې يا انديښنې لرئ نو په اړه يې خپل ډاکټر يا نرس ته وواياست.
- ✓ د ډاکټر سره خپل اونيز طبي ملاقات ته ولاړ شئ.
- ✓ د خپل ډاکټر سره د هر ډول الکولو د استعمال په اړه خبرې وکړئ. د الکولو استعمال کېدای شي چې جانبي عوارض رامينځ ته کړي.
- ✓ خپل ډاکټر ته د ټولو هغو درملو په اړه وواياست چې تاسو يې کاروئ.
- ✓ ځان په دې ډاډه کړئ چې بايد خپلو نورو ډاکټرانو ته ووايياست چې ستاسو د پټ نري رنځ د ناروغۍ درملنه تر تعقيب لاندې ده.
- ✓ ځينې خلک فکر کوي چې د خوړو سره يو ځای د درملو د استعمال اغېز کم دی.

### د نري رنځ د ناروغۍ اړوند درملو مهالويش:

(چمتو کوونکي: مناسبه ورځ او دګوليو شمېره يې په ګوته کړئ)

| درمل | مهالويش | ورځ | په ورځ کې دګوليو شمير | د وخت اندازه |
|---|---|---|---|---|
| ايزونيازيډ او ريفاپنټين | په اوونۍ کې يو ځل | دوشنبه سه شنبه چهارشنبه پنجشنبه جمعه شنبه | | 3 مياشتې (12 اوونۍ) |

ستاسو ډاکټر کېدای شي تاسو ته له خپلو درملو سره يوځای د ويټامين B6 د اخېستو سپارښتنه هم وکړي.

| يادونې |
|---|
| زما د ډاکټر نوم: |
| زما د کلينيک نوم: |
| زما د کلينيک د تليفون شميره: |




### د دغو احتمالي ستونزو په اړه خبردار اوسئ:

ودرېږئ او که چېرې د لاندې ستونزو څخه کومه ستونزه ولرئ نو سمدستي د توبرکلوز اړوند خپل ډاکټر يا نرس ته زنګ ووهئ:

- د اشتهاء کموالی، يا د خوړو لپاره د اشتهاء نه شتون
- د معدې خرابوالی يا د خېټې درد
- تبه
- د سر او بدن دردونه
- ټوخی يا کانګې
- د تشو بولو د رنګ توروالی يا د غائطه موادو نري کېدل
- په اسانۍ سره زخمي کېدل يا وينه راتلل
- د پوستکي التهاب يا خارښت
- د پوستکي او سترګو ژېړوالی
- شديده کمزوري يا ستړيا
- ستاسو د لاسونو او پښو ميږي کېدل يا بې حسي
- سرګرځېدنه

يادونه: که ستاسو متيازې، لاړې يا هم اوښکې نارنجي رنګ ولري، دا کومه د انديښنې وړ خبره نه ده. د سترګو نرم کسي کېدای شي داغ پيدا کړي.

د HIV/AIDS، وايروسي ژېړی، د جنسي لارې خپرېدونکې ناروغۍ، او نري رنځ د مخنيوي ملي مرکز
د نري رنځ د منځه وړلو څانګه

CS234967E